# د اعتزاز احسن خبرې

د وزیراعظم د توهین عدالت په فېصله اعتزاز احسن اخبارو الؤ ته ووې چې د سپریم کورټ د طرف نه وزیراعظم ته اورولې شوې سزا غېر آئیني ده، دا خبر د ۱۲ مئ په اخبارونو کښې خور شوے دے.

بېرسټر اعتزاز احسن ښوک چې د دې مقدمې وکیل هم دے، وئیلي دي، چې په عدالتي فېصله کښې ډېرې پیچیدګۍ دي، عدالت د وجوهاتو نۀ ښودلو نه بغېر په فوجداري مقدمه کښې هیڅاته سزا نۀ شي اورولے، مېډیا ته په خبرو خبرو کښې اعتزاز احسن ووئیل چې عدالت د تفصیلي فېصلې نه بغېر د ۳۰ سیکنډ کومه سزا چې اورولې ده، غلطه او غېر آئیني ده، بیا هم د غلطې فېصلې باوجود وزیراعظم د فېصلې د منلو نه انکار نۀ دے کړے، هغۀ ووې چې سپریم کورټ په خپله فېصله کښې وزیراعظم نا اهل کړے نۀ دے او عدالت سپیکر ته اختیار ورکړے دے، چې هغه ریفرنس الیکشن کمېشن ته لېږي یا نۀ لېږي، مونږ سپیکر متنازعه کړے نۀ دے، په آئین کښې د سپیکر د کردار تعین په ښۀ شان سره شوے دے، کۀ چرې سپیکر وزیراعظم نا اهل نۀ کړو نو معامله به په هم دغه ځائے ختمه شي.

کۀ اباسین راغلے نۀ وے

په ګنګرړو کښې به چا موندل ټیکونه

هر څۀ چې وشو او هر څۀ چې دي، دې آئیني او قانوني معاملو یوه پوهه زمونږ غونډې د قوانینو نه ناخبره خلقو ته هم راورسوله، په لارو کوڅو کښې خلق په قانون او آئین خبرې کوي او د خپلې خپلې پوهې مطابق یې کوي، د آئین او قانون خبرې کول او ځان پرې پوهه کول د خلکو دپاره شجر ممنوعه وه، دا خبرې او په دې خبرو پوهه صرف د مخصوصو خلکو حق و، دغه حق کم از کم دې کېس خلقو دپاره اسان هم کړو او دا په دغسې مسئلو کښې د خلقو شرکتونه د خلقو د مستقبل دپاره ښۀ علامتونه ګڼل په کار دي، په پوهه او شعور اجاره دارانه تصورات د خلقو په ګټه نۀ وي، باید چې د دې ملک خلق هم د ځینې حقونو حقدار وګرځولے شي.

